راپور: د متحده ایالاتو د خوریانیو د یووالي او انسجام ټولنې دویمه غونډه
د یادې ټولنې دویمه غونډه د ۲۰۲۵ کال د جولای میاشتې په ۱۱مه نېټه، د شپې له ۹:۳۰ څخه تر ۱۱:۰۰ بجو پورې، د واټساپ له لارې آنلاین ترسره شوه.
غونډه د قرانکریم په مبارکو ایاتونو پیل شوه،ورپسې د تېرې غونډې لنډ راپور وړاندې شو، چې له مخې یې ټاکل شوې مسؤلیتونه، د هغو اجراآت، او د ګډونوالو د تعامل څرنګوالی شریک شو. ګډونوال د مسؤلیتونو د پر وخت او مؤثرې عملي کولو په اړه مثبتې تبصرې وکړې.
غونډه د فعالو نظرونو او رغنده بحثونو پر بنسټ ولاړه وه، چې ګډونوالو پکې لاندې مهم موضوعات مطرح کړل:
- د مشرتابه ټاکلو اړتیا، د یو مؤثرې رهبری د جوړښت لپاره؛
- د حضوري ناستو ترتیب، تر څو د اړیکو پیاوړتیا او اعتماد رامنځته شي؛
- د ټولنې د غړو د رسمي ثبت‌نام مسله.
دا بحثونه د غړو د ژور تعهد، د ټولنیز یووالي لپاره د صادقانه هڅو، او د راتلونکو ګامونو د اغېزمنتیا څرګندونه کوله. په همدې لړ کې لاندې مهمې پرېکړې ونیول شوې.
۱. ښاغلي ډاکټر شمس او یوسف شیرزاد ته دنده وسپارل شوه چې د ټولنې د فعالیتونو لپاره یوه لنډه، هدف‌محوره کړنلاره جوړه کړي، تر څو د راتلونکو اقداماتو لپاره لارښونه موجوده وي.
۲. ښاغلی محمد نثار هوایي په رضاکارانه توګه د معلوماتو تنظیم او ساتنې مسؤولیت واخیست، ترڅو د ټولنې لپاره یو اغېزمن ډیټابېس جوړ کړي.
۳. ټول ګډونوال متعهد شول چې د خوریانیو د وګړو پېژندلو او ټولنې سره د نښلولو لپاره خپلې نهایي هڅې وکړي، تر څو ټولنې ته د پراخوالي او یووالي فرصت برابر شي.
غونډه د دعا په لوستلو پای ته ورسېده، چې د ټولنې لپاره د بریا، خیر او اتفاق غوښتنه وشوه. راتلونکې غونډه به د اګست میاشتې په ۱۰مه نېټه ترسره شي، چې د لا ډېرو عملي ګامونو، راپورونو او نوښتونو لپاره به چمتووالی ونیول شي.